انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۱۲/۳۱

# نوی کال!

تیرشو زوړ او شو را نـوی یو بل کال

راځي کورته مو هـر کال نوی جنجال

په تیرکال کی ډیرپه سرو وینو ککړشول

هــم ښـارونو، هــم درو کی وطنوال

لکه واوری چی را توئ شولی له هسکه

هسی ځور زمونږ په سر ؤ د غم جـال

چا د مور په نوم بمونو باندی مره کړو

چا د کُفر په تـومت کـړلو حـــلال

د تیر کال په خیر دی بل را نوی نشی

و دی نه لګـي په ولـس د غم شمال

نوی کال کی دی را لنډ شی تول لاسونه

د افـغـان، له نړیوالـو نه د ســوال

غږ د سولې دی ور ورسي هرغوږ ته

له مـمـبر دی آذان وکـړی بـل بلال

شـي بیدار دی د افغان د مور بچوړې

و ساتـلـو ته د سـر، عـزت او مــال



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

هـرکلی د نوی کال دی بـخـتور شی

جوړدی نشی منځ د ورونو کی دیوال

لکه خویندي ورونه یو دی افغانان شی

وی آرام دی، د لـوی کـلـی کـلیوال

دسمبر/۲۰۱۷/۲۸

تورنـتـو ـ کاناډا

Ariana Afghanistan Online